## مطبوعاتي خبرپاڼه

نېټه: د ۱۳۹۷ د مرغومی ۲۲مه

موضوع: افغانستان د TASİM پروژې غړیتوب تر لاسه کړ

د افغانستان د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوجۍ د سیمه ییز اتصال په موخه د سیمې د ګاونډیو هېوادونو سره د خبرو اترو په ترڅ کې وتوانېد چې دTASİM (د اروپا او آسیا د معلوماتو د ټرانزیټ لویه لار ) پروژې غړیتوب تر لاسه کړي.

د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوجۍ وزیر محترم شهزاد آریوبي، د مالي سرپرست وزیر او د زیربناو په چارو کې د جمهور رئیس سلاکار محترم داکټر محمد همایون قیومي په آذربایجان کې د افغانستان، آذربایجان او ترکمنستان د لوړ پوړه چارواکو په ګډه ناسته کې د TASİM پروژې د عملي کېدو او نویو لارو په اړه خبرې وکړې.

په دغه ناسته کې پرېکړه وشوه چې افغانستان او ترکمنستان د TASİM - Trans-Eurasian Information Super ( Highway)پروژه کې شامل دي.

د ویلو ده چې په دې اړه به د اړوندو هېوادونو یو ګډه تخنیکي کمېټه کار وکړي چې د آذربایجان، ترکمنستان او افغانستان تر منځ ددغه پروژې د عملي کېدو په موخه په تخنیکي چارو او درې اړخیزه هوکړه لیک کار وکړي.

د آذربایجان دولت همدا راز چمتو والی وښود چې د ترکمنستان سره د نښلېدو په موخه د کسپین سمندرګي (Caspian Sea)کې پانګونه وکړي، په داسې حال کې چې افغانستان لا له وړاندې د تورغونډی بندر له لارې د ترکمنستان سره وصل شوی او ددغه پروژې د عملي کېدو لپاره چمتو دی.

TASİMپروژه د شرقي آسیا او غربي اروپا هېوادونو د نښلېدو پروژه ده چې له لارې یې نوري فایبر د جرمني فرانکفورټ څخه تر هانکانګ غځېږي چې د نړۍ دوه ستر exchange point سره وصلوي.

ددغه پروژې له لارې تلونکی نوري فایبر به افغانستان، اذربایجان، قزاقستان، ترکیې او جرمني څخه تېرېږي.

د نورو معلوماتو لپاره زموږ ویب سایټ www.mcit.gov.af ته مراجعه وکړئ اویا د ۰۷۴۳۱۲ ۹۳۷۴۷ شمیرې سره اړیکه ونیسئ.